مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۰/۰۹/۱۲

# نظم

ورونه یو خو په جلا لارو روان یو
د خپل قام د پرمختګ لوی دښمنان یو
د پردي تهذیب سره پاخه یاران یو
جوړ له ختي خو عمل کښي شیطانان یو
سوله غواړو خو د جنګ جوړ لوی میدان یو

جوړ نظام مو د جهاد په نوم تباه کړ
خپل مرید مو په خپل لاس ځان ته بلا کړ

د وحشت په ورکو لارو لا ورکیږو
د پردو د جنګ په اور لا هم سوځیږو
هم په کور هم په صحرا کښي حلالیږو
په خپل کور کښي د میلمه په څېر اوسیږو
د منصور غوندې په دار باندې ځړیږو

لکه مړی پروت په ځمکه، بې کفن یو
بې منزله مو هر ګام چې بې وطن یو

د دردونو انتها شوه خدایه بس دی
جوړ د اوښکو یوه دنیا شوه خدایه بس دی
ړنګه هرې خوا خندا شوه خدایه بس دی
ورک زمونږ توله ښکلا شوه خدایه بس دی
خونه ورانه د هر چا شوه خدایه بس دی

پسرلي کښي اتیونه، خندا غواړم
د پخوا په شان وختونه اشنا غواړم

مصطفی پسرلی
12/09/2020



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ